DAILY

اراده

د افغان نشراتی مرکز ملی خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال سوم شماره نوذ و نیك
شماره مسلسل ۱۷۱ سه
یکشنبه ۱۴ ثور ۱۳۸۲ هـ ش
دوم ربیع الاول ۱۴۲۴ هـ ق
4 May 2003

PROPERTY OF ACKU

محترم مارشال فهیم

در چرخ دولت اسلحه در نزد افراد غیر مسوول ثبات و امنیت را با خطر مواجه میسازد

آقای مارشال فهیم معاون رئیس دولت و وزیر دفاع روزجمعه هنگام دیدار از ولایت بغلان در شهر پلخمری مرکز آن ولایت در جمعی از اهالی و مسوولین محلی گفت: که موجودیت اسلحه در نزد افراد غیر مسوول ثبات و امنیت را با خطر مواجه می سازد وی از مردم خواست تا در برنامه جمع آوری سلاح و بازسازی افغانستان با دولت همکاری کند. وزیر دفاع همچنان گفته است که بازسازی افغانستان به نیروی فزیکی نیاز دارد، وی با اشاره به پروسه خلع سلاح در افغانستان گفته است: که برنامه ملکی سازی میتواند کمک موثری در جهت پیشرفت کار بازسازی در کشور باشد منابع وزارت دفاع گفته اند که مارشال فهیم از چندین ولایت در شمال شرق این کشور دیدار خواهد کرد. دیدار وزیر دفاع از ولایات شمال کشور در حالی صورت میگیرد که هنوز هم مورد از سرقت آزار و اذیت مردم به وسیله افراد مسلح از آن ولایات گزارش میگردد، انتظار برده میشود که سفر وزیر دفاع در کاهش چنین موارد، موثر واقع شود.

پرواز طیارات آریانا به مسکو آغاز می یابد

شرکت هوایی آریانا در یک اطلاعیه تازه خبر داده است که پرواز های طیارات این شرکت سر از تاریخ (۱۵) ثور سال جاری به مسکو پایتخت روسیه فدراتیف آغاز می گردد. درین اطلاعیه آمده است که طیارات آریانا منبعد هفته یک بار به روز های دوشنبه از کابل به جانب مسکو پرواز خواهند کرد، گفته شده است که طیاره های آریانا همچنان در باکو مرکز آذربایجان نیز یک توقف کوتاه خواهد داشت. در حال حاضر طیارات آریانا به امارات متحده عربی، جرمنی، هندوستان، پاکستان و چند کشور دیگر پرواز دارد. بعد از سقوط حکومت دکتور نجیب الله در بهار سال ۱۳۷۱ خورشیدی پرواز های طیارات شرکت آریانا به مسکو متوقف گردیده بود.

پنج فابریکه تولید چرس از بین بُرده شد

مسوولین امنیتی ولایت قندهار خبر دادند که آنان پنج فابریکه تولید چرس را در سپین بولدک آن ولایت ازبین برده اند مسوولین امنیتی به آژانس باختر گفته اند که درین فابریکات پنج ماشین تولید و چهار ماشین پرس چرس فعال بوده است در خبر همچنان آمده است که چار هزار کیلو چرس پخته و خام ویک میل تفنگچه میکاروف در یک موتر نوع بایفور نیز به دست آمده است که به گار نیزیون هوایی قندهار انتقال یافته مسوولین گفته اند که گردانندگان این فابریکات فرار نموده اند.

رقم جدید تلفات ناشی از مرض سارس

منابع کشور های چین و هانگ کانگ گزارش دادند که تعداد دیگری به بیماری سارس مبتلا گردیده اند وزارت امور صحت عامه چین خبر داد که ۹ تن در اثر بیماری سارس هلاک شد و ۱۸۱ نفر دیگر به این مرض مصاب گردیده اند به این ترتیب شماره مجموعی تلفات در چین به ۱۹۰ نفر و شماره مصابین به این مرض تقریباً به (۴۰۰۰) نفر می رسد هانگ کانگ مرگ (۹) مریض دیگر و مصاب شدن (۱۰) تن دیگر را به مرض سارس راپور داده است از اثر بیماری سارس که پنج ماه قبل در چین مشاهده شد واز آن جا در نقاط مختلف جهان سرایت کرد تا کنون مجموعاً (۴۰۰) نفر را به هلاکت رسانیده است.

انتقاد سازمان نظارت بر حقوق بشر

بانگ انکشاف و همکاری در اروپا اجلاس سالانه خود را در پایتخت ازبکستان تاشکند آغاز کرد بانک انکشاف و همکاری مورد انتقاد قرار گرفته که چرا اجلاس سه روزه خود را در کشوری دایر می کند که در آن حقوق بشر بدرستی رعایت نمی شود دیروز سازمان نظارت بر حقوق بشر اظهار داشت که ازبکستان نتوانسته است برای اجلاس بانک انکشاف و همکاری یک محیط آزاد را مهیا بسازد.

استقبال از تصمیم کشور هندوستان

حکومات بریتانیا و ایالات متحده امریکا و پاکستان از تصمیم هند برای بر قراری مجدد روابط کامل دیپلوماتیک و از سرگیری خطوط حمل و نقل به پاکستان استقبال کرده اند جکسترا وزیر خارجه بریتانیا گفت: این اقدام نخستین قدم بسوی ایجاد ارتباط و حل اختلافات عمده دو کشور به سر معضله کشمیر است. کولن پاول وزیر امور خارجه امریکا نیز از پیشنهاد هند استقبال کرد، و آنرا بسیار امیدوار کنند خوانده است.

د ترکې زلزله خپلو ته د نورو مړو د موندلو هیلې نشته

په سویل ختیځه ترکیه کې ژغورندویه کارکوونکې وایي چې د ښوونځي په هغه لیله کې چې زلزلې دوه ورځې د مخه رنګه کړې ده د نورو مړو د موندلو ډېره هیله نشته د ورکو کسانو خپل خپلوان چې د بنګول په ښار ګوتې کې د ښوونځي نه بهر شپې سبا کوي بېګا پنځه مړي د راایستلو په وخت کې لیدلی دي خو د بي بي سي یو خبریال وایي چې د کانکریټو د اوسپنې او د لرګو لاندې د مړو د را ایستلو کار سره ددې هم په تیزۍ روان دی چې د اوسپنې او کانکریټو له پرې کونکو آلاتو او هم د ماشیني کرینونو څخه کار اخیستل کیږي.

د لوی او ښېګڼې خدای په نامه

سرمقاله

نوی والی او سملاسی اجراات

زموږ په ځوریدلی هیواد د څو وروستیو لسیزو په اوږدو کی چی کومی تپل شوی او واکمنی ته د رسیدلو او یا په واکمنی کی د پاتی کیدلو جګړی وشوی او کوم مادی او معنوی زیانونه چی لدی جګړو څخه رامنځ ته شوی دهغوی د جبران له پاره که څه هم له ستونزو ډك کار دی خو د هیواد په اوسنیو شرایطو کی چی مرکزی اداره رامنځ ته شوی ده تر هر څه زیاته ددی اړتیا ده چی په هیواد کی د جوړونی او بیا رغاونی لپاره دملی یووالی د بهیر په پیاوړتیا کی د امنیت او سوله ییز ژوند د رامنځ ته کولو په خاطر ډاډه ګامونه پورته شی.

په هیواد کی د داسی اهدافو د سرته رسولو لپاره لازمه وه او ده چی د هیواد په سطحه د ملکی او پوځی چارواکو د بدلون را بدلون بهیر توند شی د انتقالی اسلامی دولت د مشر ښاغلی حامد کرزی د فرمان له مخی پدی وروستیو کی ښاغلی سید فضل اکبر د کنړ د تاریخی ولایت د والی په توګه او برید جنرال عبدالصفا مهمند دهغه ولایت د امنیی د قوماندان په توګه وټاکل شول دغی ټاکنی سره نه یوازی دکنړ عام خلك او مشران خوشحاله شول بلکی نوی والی د خپلی دندی له پیل سره سم د بیا رغاونی په کارونو لاس پوری کړ.

د اسعد اباد او جلال اباد تر منځ د لویي لاری د جوړولو کار چی د ترافیکو په مخ څه نا څه ستونزی پیدا کړی وی د ثور په لسمه نیټه پیل شو د بیا جوړونی پدی بهیر کی به نوموړی لاره ترمیم شی.

پاتې ۴مخ

د فاتحې اعلان

د عظمی صدارت د ولایاتو د چارو پخوانی رئیس امیر محمد صالحی پلار
د میدان د مرکز د لیسې مدیر عبدالحمید صالحی تره
عبدالخالق، محمد ضیاء صالحی، رحیم الله صالحی، احسان الله صالحی او عبدالرازق صالحی ورونه
د طبی علومو د اکاډمی ډاکټر محمدحبیب مومند او ډاکټر محمد داود مومند ماما ګان.
ډاکټر همایون صالحی، ډاکټر بریالی صالحی، عبدالولی صالحی، ډګرمن عبدالرشید صالحی، محمد ظریف امرخیل، ډاکټر نیاز محمد صالحی، محمد حلیم او توویالی صالحی د تره زامن.
ډاکټر ذبیح الله مومند، عطا الله مومند او اجمل مومند د ماما زامن.
هوایي ډګرمن محمد ملوك، عنایت الله او شفیق الله د ترور زامن غلام فاروق نصرت د خاله زوی.
عبدالعظیم مشهور په شاغاسی، امان الله، محمد صابر، ډګروال عزیز الله، او ډاکټر رحمت الله بشریار اوښی،
محمد الله د ترور میره.
د وحیدالله صالحی د مړینې له کبله دوستانو ته خبر ورکوي چې د نارینه وو فاتحه د یکشنبې په ورځ د ثور په ۱۴ مه نیټه د ماسپښین له یوې نیمې نه تر درینیمو بجو پورې د شاه دو شمشیره (ع) په جامع جومات کې او د ښځو فاتحه په خوشحال خان مینه کې پخوانی پنځمې امنیتي حوزې ته مخامخ د امیر محمد صالحی په کور کې اخیستل کیږي.

قتل یک گزارشگر تلویزیونی

گزارش شده که سربازان اسرائیلی یک گزارشگر تلویزیونی بریتانیایی را در شهر فلسطینی غزه واقع در باریکه غزه به ضرب گلوله کشته اند به گفته شاهدان عینی این خبر نگار هنگام فلمبرداری از عملیات سربازان اسرائیلی در تخریب خانه مورد اثابت گلوله قرار گرفت و به شدت زخمی شد وی بعداً در اثر زخم گلوله جان داد. شاهدان عینی میگویند: که هنگام تیراندازی وی علامت خاص خبرنگاران را بر تن داشت و به عنوان روزنامه نگار کاملاً قابل تشخیص بود.

بازگشایی مکاتب بغداد

برای اولین بار بعد از سرنگونی رژیم صدام حسین رئیس جمهور سابق عراق مدارس بغداد بازگشایی شده اند تصاویر رهبر عراق از دیوار صنوف مکاتب پایین شده خبرنگار بی بی سی در بغداد می گوید: که بازگشایی مدارس نشانه مهمی از بازگشت تدریجی وضعیت عادی به شهر است. با این هم بسیاری نگران دریافت حقوق خود هستند. برخی دیگر بخصوص از والدین شاگردان نسبت به وضعیت امنیتی شهر اطمینان ندارند و ترجیع میدهند که فرزندان شان بجای رفتن به مدرسه در خانه ها بمانند.

په بریتانیا کې د ترحه ګرو بله جوپه ونیول شوه

د بریتانیا د ترحه ګرې ضد پولیسو په تل ابیب کې د روانې اونۍ د ځان مرګي بمي برید په اړه په پلټنو کې شپږ کسان نیولي دي پدې برید کې دري اسرائیلیان مړه او نور ژوبل شوي وو. پدې برید کې د بریتانیا د دوه استوګنو لاس وو دغه کسان د بریتانیې په پلازمینه لندن او د انګلستان په منځنۍ سیمه کې نیول شوي دي د پولیسو د وینا له مخې له دوی سره وسلې یا نور څه چاودیدونکې شیان ندي موندلي په نیول شوو کسانو کې درې ښځې شاملې دي.

په عراق کې د ۵۳ مړو جسدونه موندل شو

په عراق کې د بغداد په سویلي لوري کې سل کیلو متره لرې بابل ته نږدې یو ډله ایز قبر موندل شوی دی. د فرانسې خبري آژانس وایي چې خلکو ښار ته ورځیرمه په یوه شاړه کې په بیلونو او بیلچو پر کیندلو کې د ۵۳ مړو جسدونه موندلي دي چې ځینې یې د ماشومانو دي دا څرګنده نده چې دغلته خښ کړای شوي څوك دي یا کله تر خاورې لاندې شوي دي.

د خوست د غړوسي جنجال!

که مرکزي حکومت زمونږ مظلومانه غږ وا نه وري، نو موږ یو زر او دوه سوه کورنی به پخپل آبایی ټاټوبی پرېښودلو ته مجبور شو.

پ: محترم حاجی صاحب حاجی شیر آغا خان " ځدران " مهربانی وکړی کابل ته ستاسو مشرانو د راتګ په اړه معلومات را کړی؟

ځ: مونږ کابل ته د (۱۲۰۰) کورنیو په نمایندګی راغلي یو، مونږ په خوست کې ستونزې لرو، او د خوست چارواکې مستقیماً زموږ سره مدعیان دي، نو هغه متل دی چې وایي: دعوه د چې له قاضی سره شی فیصله کوي به یې په چا؟ نومونږ په مرکز کې خپل د مظلومیت غږ د حکومت مشرتابه ته رسول غواړو.

پ: تاسو د خوست له اداري سره څه ستونزې لرئ؟

ځ: مونږ د غوایي د کرغیړنې کودتاه په را منځ ته کیدو پاکستان ته مهاجر شولو او کله چې کمونیستي حکومت د مجاهدینو په لاس را نسکور شولو، موږ (۱۲۰۰) کورنی له پاکستان څخه خوست ته راستانه شولو، او د وخت حکومت د خوست په لویدیځ کې په شاړو ځمکو کې د کورونو جوړولو اجازه شفاهي راکړه او تر دې مهال موږ هلته ژوند کاوه، اوسنی اداره په خوست کې موږ ته وایي چې دا ځمکه حکومتي دی او تخلیه یې کړی.

پ: ستاسو ځواب د خوست اداري ته څه دی؟

ځ: زموږ ځواب دا ده چې که پدې ځمکه حکومتي تعمیرات د مرکز په دستور جوړیږي نومونږ حاضر یو خپل کورونه ونړوو، په شرط د دې چې پخپله د خوست چارواکې پخپلو خپلوانو دا ځمکه ویش نکړي، او مونږ ته په بل ځای کې د کورونو جوړولو ځمکه راکړي.

به ستاسو تر دې مهال د خوست له چارواکو سره وروستي لیدنې کتنې ستونزو ته د حل هیڅ لاره پیدا نشوه کړای چې تاسو کابل ته راغلاست؟

ځ: موږ د خوست چارواکو ته په وروستي لیدنې کتنې کې وویل: که زموږ لپاره پدې ځای کې پخپلو کورونو کې اجازه د ژوند کولو رانکړئ، نو په بل ځای کې مونږ ته د کور جوړولو لپاره ځمکه را کړي، هغوی په ځواب کې وویل: چې نه په بل ځای کې ځمکه در کوالای شو، او نه هم یدی ځمکه د اوسیدو حق لري او ګواښ یې وکړ چې که ژر خپل کورونه تخلیه نکړي نو په زور به ټول کلی کورونه درنه وران کړو، نو ځکه مونږ مجبور شولو کابل ته راشو او مشرتابه ته د راپیښو شوو ستونزو جریانات ووایو.

پ: لکه څرنګه چې تاسو پورته ذکر کړه که مرکزي حکومت ستاسو غږ ته دستې ځواب ونشوای ویلای نو تاسو به بیا پاکستان ته مهاجر شی، دلته په هېواد کې ۲۳ کاله جګړې شوي هر څه په یوه وخت نشي سمیدای، تاسو خپل ګواښ بنې ځایه نه ګنئ؟

ځ: نه هیڅکله نه مونږ د هېواد د آزادی افتخار په غاړه لرو د دې حق لرو چې پخپل هېواد کې آبرومند ژوند وکړو.

دنوي کال په درشل کې نوي هیلې

ځ لرغیلی

زاړه کال په منډه منډه خپله لمن دځمکې له مخ څخه ټوله کړه. او نوې کال رارسیدلی دی او دخپل رارسېدو سره سم ئې غاړه غړۍ زمونږ دژوند له کاروان سره ځان یو ځای کړی دی.

دا چې زاړه کال له زړو امیدونو خپله لمن ټوله کړه نو ددې ښکلې پسرلې په راتګ او دنوی کال په پیل سره دژوند پاڼه هم بدله ښکاري. نوی کال دژوند لپاره نوې ارزوګانې، نوې بدلونونه، نوي سوغاتونه او نوې ډالۍ له ځان سره راوړي دي.

ددې کال زیرې زمونږ دژوندانه لپاره کار حرکت زیاراو مبنود دی. دا خبره جوته ده چې وړاندې کلونو په تاریخی څیو کې هرپسرلې سره اوړی او د هر منې سره ژمې دسکون او ودریدو شیبې تیرې کړي، خو په دې باید ځان وپوهوو چې کار اوژوند له یو بله څخه نه بلېدونکي دي او په هره تاریخي شیبه کې یوبل ته اړتیا لري.

دا چې په تیرو کلونو کې مونږ دخپل ژوند لپاره خپل کارونه نیمګړې او نامکمل پرېښې وي او هغه ددې سبب شوي وي چې زمونږ خوږ عمر او ژوند دیولې بدلونونو څخه بې برخې پاتې شوی وي نوې کال او دنوې ژوند پسرلې چې تازه هوا یې دانسانانو لپاره دفعالیت مناسبه او ګتوره لاره ده نو لازمه ده چې د خپل ژوند اودهیواد لوړتیا لپاره ترې ګټه پورته کړو او داسې ونه کړو چې خپل وخت خوشې او بیکاره تېرکړو دا چې هر پسرلې دنیا ته نوې رنګ او ښکلا ورپه برخه کوي نو وګړو ته هم دا پکار ده چې دپسرلي دطبیعي ښکلا دژوند لپاره معنوی امکانات رابرسیره کړي، کار او زیار وباسي او دغه کار او زیار د خپل ځان او ژوند لپاره نیك او دایمی ملګرې وګڼی او دهغوی سره ګام په ګام دهیواد دابادۍ سمسور تیا او رغونې لپاره کار واخلو او خپل هیواد داسې سمسور کړو لکه څنګه چې پسرلې په خپل راتګ سره ګردې نړۍ ته ښکلا او شیم وربښلې دی او ګران هېوادوال دخپل هیواد دسمسورتیا اورغونې او دخپلو خلکو دژوند لوړتیا لپاره دکار او زیار ډګر ته ورودانګي اوخپل هېواد په خپلو مټو ودان کړي او دهېواد دابادولو لپاره خپل فعالیتونه تیز او تند کړي.

متحدین په سوریه د یرغل قصد نلري

د امریکا د باندنیو چارو وزیر کولن پاول سوریې او لبنان ته خپل سفر جاري ساتلی او وایي چې دی به دده به خبره په منځني ختیځ کې په نویو ستراتیژیکو حقیقتونو خبرې کوي. د سوریې له ولس مشر بشارالاسد سره له لیدو نه وړاندې ښاغلي پاول وویل: چې دی د صدام حسین د پرمختګ کېدو او د اسرائیلي او فلسطیني شخړې په اړه د سولې د نوې پلان د اعلامیدو نه وروسته سپینو او کره خبرو ته سترګې په لاره دي، ښاغلي پاول دا خبره ومنله چې واشنګټن د سوریې د ځینو اوسنیو کارونو په اړه جدي اندیښنې لري. امریکا دا تور لګولی چې سوریه کیمیاوي وسلې جوړوي او تندلارو فلسطیني او لبناني ډلو سره مرستې کوي خو نوموړي په ټینګه دا ګنګو سي رد کړي چې ګنې سوریه د امریکا د یوبل فوځي یرغل لاندې راشي.

د بیا رغونی په لور

مخ چلوونکی: اباسین

دافغانستان دپنبې تولید د ملي اقتصاد لویه منبع

چې داوږدو جګړو او کورنیو کشالو په وړاندې روغه پاته شوه یوه هم دښت تصدي ګڼل کېدای شي دافغانستان دصنعتي تکامل په موخه د ۱۳۴۳ او ۱۳۴۶ لمریز کلونو ترمنځ افغان دولت دانګریزانو ددوه لویو کمپنیو په مرسته دهلمند په مرکز کې دبست دپنبې فابریکه رامنځ ته کړه. ان له پیل نه ترننه پرته له وقفې دهلاجی او جینی ترس پدوه عمده برخو کې دغه فابریکې خپل تولید داصلي پنبې سره دتېلو، غوړیو، صابون او پنبه دانو په شکل جاري ساتلې وې.

له بهرنیو ملکونو سره دافغانستان په تجارتي اړیکو کې که څه هم افغانی تولیدات دکمیت له مخې محدودوو خو له کیفی لحاظه دپنبې په شمول ځینو توکیو دمرغه دپیو ځای نیولی وو. په هماغه رومبیو کلونو کې افغانی پنبه دیوه قرارداد له مخې پخوانی شوروي ، چین او بلغاریا ته لیږدیده خو لدې سره سره په آزاد لیلام او خصوصي ډګرکې هم څو لسیزې خرڅلاو ته وړاندې شوې مګر داڅو وروستی کلونه چې په افغانستان دتجارت لارې تړلې وې دپنبې عواید په ۲ فیصده اټکل کېدای شي . داچې اوس مهال دپنبې دخرڅلاو بازار څومره تودې، دنوموړي فابریکې تخنیکي معاون اسدالله خان وائي: «له CADJ موسسې سره مو یوقرارداد وکړ چې زمونږ دتولید رومبې او دوهم سرت پنبه بهرنیو ملکونو ته استوي . تردې مهاله وړو سوداګرو سره تجارتي اړیکې نلرو ځکه هغوی جنس په کمه اندازه اخلي او زمونږ تجارتي بازار ته زیان دي.»

ددغه فابریکې عوایددخامو موادو په اندازه پورې غوټه دی. له اصله ۲۵ زره ټنه یوازې دهلاجي دستګاه خپل ظرفیت اټکلوي خودکوکنارو دکرکیلې رواج دهملند په څېر دډیرو سیمو بزګر دپنبې له کښت هم زړه توري کړي. همدا رازدهلمند دټول ولایت په شمول دهېوادد زیاتره سیمو اقلیم او دپنبې کرونده سره اړخ لګوي.

دکارونو دچټك پرمختګ اوشفافیت په موخه دوخت دولت په ګرشك کې هم دبست تصدی یوه مجهزه نمایندګی رامنځته کړه چې په ظرفیت کې دبست له تصدی سره ورته وه خودطالبانو په راپرځولوکې دامریکا هوائی بمباریو نوموړې دستګاه په خاورو وسپارله .

دا مهال ددولتي تصدیو په کتار کې دبست دپنبې دفابریکې عواید یولږ ستونزو ګواښمن کړیدی ، تخنیکي معاون اسدالله زیاتوی چې دډیرې خصوصي هلاجیو منځ ته راتګ په اصل تولید منفي اغیز لري. نوموړی وایی چې « په غیرفنی توګه دجعلي تولیداتو راویستل په بالاخره ددې باعث شي چې دافغانستان پنبه په نړیواله تجارتي سیالۍ کې له ماتې سره مخ کړي. نن سبا چې دولتي پرله پسې په خصوصي ډګر ورګډېږي دبست تصدی زیات کارکونکي ددولت دغه پریکړه ګټور ګام بولي. هغوی پدې نظر دي که نوموړې فابریکه په خصوصي سکتور بدلېږي نوپخواني ابتدائي ماشینونه به مدرن اودتولید کچه به لوړه شي.

په نړیوالو مرستوکې دمېرمنو ونډه نسبي شکل لري

دتېرکال په سرګې چې دلنډمهالې اداري په عنوان مرکزي دولت په کابل کې حاکمیت حاصل کړ نړیوالو دونرونو، موسساتو، داخلي انجوګانو اوسازمانونو په افغانستان کې دبیارغونې چارو ته دمرستو ژمنې وکړې خو هغه چې په افغانستان کې داساسي او رومبني ضرورت په توګه احساس کېدای شي دافغاني مېرمنو دهوساه ژوندچانسونه دي. دطالبانو په دوران کې مېرمنې په محرومیتونو اومحدودیتونو کې راګیر وې مګر دلنډمهالې اداري حاکمیت دغه اجباري بریدونه تریوې اندازې ونړول . په اوایلو کې دولت په محدودو امکاناتو ددې جوګه شو چې دښځو چارو په نوم یو وزارت رامنځ ته کړي خوزمونږدهېواد کمزوري اقتصاد به جبیره نکړای شي چې یوازې په نوم حق یې مېرمنې له مصنوعې پدیدو وژغوري. نو اساسي موضوع همدا ده چې له داخلي امکاناتو سربېره دغه وزارت په نړیوالو جلب شویومرستو کې څومره ونډه ترلاسه کړې ده

دښځوچاروزارت په نسبي توګه پدې بریالی شو چې ترډیرې اندازې دبلا عوض بهرنیو مرستوسره برخه پخپله خوا وروړوي. په رومبي سرکې دملګرو ملتونو اداري (یونما) دیلو او IOM مالي او تخنیکي همکارۍ دستاینې دي. دغه اداري په مرکز اوځینې ولایاتوکې وتوانېدل چې په ښونه اوروزنه او دمسلکي کادرونو په روزلو کې دمېرمنوونډه غښتلې کړه همدا مهال د(۵۰) په شاه و خوا کې تعلیمي او حرفوي کوروسونه په کابل کې یوازې دښځینه زده کوونکو دتعلیمي کچې دلوړوالي په منظور دایر شوي چې به دوام مومي. دمرستندویه مرکزونو له خوا دانګریزي ژبې، کمپیوتر، اداري یا منجمنټ، تجارتي وړتیا ، لاسي صنعت، دماشومانو تربیه، کورنی نظام اودځینو نورو ورځنیو چارو دښه ترسره کولو اوسمبالولو په غرض د ترېنګونو، سیمنارونو، کورسونو او ورکشاپونو دایریدل لکه چې تر سترګو کېږي دمثبت رول په توګه ارزولای شو.

ددې ترڅنګ د ۷۰ په شمېر داخلي انجوګانو هم په افغانستان کې دمېرمنودموجودو ستونزو په مخنیوي کې برخه اخستې او په لږ توجه کېدای شي دغه پروسه نوره هم غښتلې کړي اوافغاني مېرمنې ته اوه کلن سقوط وروسته دتمدن ، تعلیم او بشري تکامل په برخه کې ورسوي. دبیلګې په توګه دراتلونکي اساسي قانون لپاره یوې مرسته کونکې موسسې پوره ۱۰۰ کسه ښځینه زده کونکې روزلې چې دراتلونکې دولت داساسي قانون په جوړښت، تردیداوتائیدکې په کامله فکري وړتیا سره رائې ورکړي.

له لویه سره دغه مالي او تخنیکي همکارۍ بنیادي سرمایه ګذاري ګڼل کېدای شي چې دبشري همدردۍ او انساني تکامل په نسبت ترسره کېږي خو زیاتره وخت فرصتونه دافغانستان روزې نشي. دمېرمنو چارو وزارت کې دغیر دولتي اینجوګانو اوموسسواداري مشرۍ نوریه بنوال په څېرزیاتره مېرمنې هم پدې نظر دي چې مرسته رسونکې اداري دبیارغونې په نوم بهرنۍ مرستې یوازې دځان په ګټه کاروي ، نوموړې وائي: « که دولت اینجوګانو ته کاري استقامت او مشخصه پالیسي ورنکړي اټکل ده چې دکال ترپایه په ملیاردونو ډالره زیان وګالي.»

خو دمېرمنو چارو وزارت دبهرنیواړیکو مرستیاله منعمه منصوردهمدې ادعا په ځواب کې وائي چې دلوړومقاماتو سره پداسې یو پروتوکول سلاشوي چې هغه داخلي اینجوګانو اوموسسات چې دمېرمنودچارو په برخه کې فعالیت کوي په پلان وزارت سربېره بایددمېرمنو وزارت هم را جستر شي هغه څرګنده کړه چې « له دغه تصمیم راپېدیخوا تقریباً ۴۰ انجوګانو له مونږ سره راجستر شوي او مونږ به دپلان وزارت سره په لږ توپیر دوړتیاولرلای شو چې انجوګانو. ته کاري استقامت او ټاکلې پالیسي ورکړو اوهغوی دخپلو کارونو راپورونه اومالي حسابات بایددښځو وزارت ته وسپاري». نوموړې ډاډه ښکاري چې ترنن پورې دغه طرح شوی پلان ئې په کامل ډول مرعات شوی دی . همدا رازدښځووزارت زیاتره مامورینې پدې نظر دي چې نړیوال مرسته کوونکي باید داسې تولیدي پروژې دښځو په واك کې ورکړي چې عاید یې بیرنې او ډېر وي یعنې زودرسه تولیدي پروژې خوهغه چې په لږ فزیکي قوه ترسره کېدای شي ځکه میرمنې دډېر استقامت اوثقیلو کارونو توان نلري.

د بیارغونې د ۷۰ سلنه پروژې د ۲۰۰۳ کال د مارچ تر مخه بشپړېږي

دتېرکال په سرګې چې دلنډمهالې اداري په عنوان مرکزي دولت په کابل کې حاکمیت حاصل کړ نړیوالو دونرونو، موسساتو، داخلي انجوګانو اوسازمانونو په افغانستان کې دبیارغونې چارو ته دمرستو ژمنې وکړې خو هغه چې په افغانستان کې داساسي او رومبني ضرورت په توګه احساس کېدای شي دافغاني مېرمنو دهوساه ژوندچانسونه دي. دطالبانو په دوران کې مېرمنې په محرومیتونو اومحدودیتونو کې راګیر وې مګر دلنډمهالې اداري حاکمیت دغه اجباري بریدونه تریوې اندازې ونړول . په اوایلو کې دولت په محدودو امکاناتو ددې جوګه شو چې دښځو چارو په نوم یو وزارت رامنځ ته کړي خوزمونږدهېواد کمزوري اقتصاد به جبیره نکړای شي چې یوازې په نوم حق یې مېرمنې له مصنوعې پدیدو وژغوري. نو اساسي موضوع همدا ده چې له داخلي امکاناتو سربېره دغه وزارت په نړیوالو جلب شویومرستو کې څومره ونډه ترلاسه کړې ده

دښځوچاروزارت په نسبي توګه پدې بریالی شو چې ترډیرې اندازې دبلا عوض بهرنیو مرستوسره برخه پخپله خوا وروړوي. په رومبي سرکې دملګرو ملتونو اداري (یونما) دیلو او IOM مالي او تخنیکي همکارۍ دستاینې دي. دغه اداري په مرکز اوځینې ولایاتوکې وتوانېدل چې په ښونه اوروزنه او دمسلکي کادرونو په روزلو کې دمېرمنوونډه غښتلې کړه همدا مهال د(۵۰) په شاه و خوا کې تعلیمي او حرفوي کوروسونه په کابل کې یوازې دښځینه زده کوونکو دتعلیمي کچې دلوړوالي په منظور دایر شوي چې به دوام مومي. دمرستندویه مرکزونو له خوا دانګریزي ژبې، کمپیوتر، اداري یا منجمنټ، تجارتي وړتیا ، لاسي صنعت، دماشومانو تربیه، کورنی نظام اودځینو نورو ورځنیو چارو دښه ترسره کولو اوسمبالولو په غرض د ترېنګونو، سیمنارونو، کورسونو او ورکشاپونو دایریدل لکه چې تر سترګو کېږي دمثبت رول په توګه ارزولای شو.

ددې ترڅنګ د ۷۰ په شمېر داخلي انجوګانو هم په افغانستان کې دمېرمنودموجودو ستونزو په مخنیوي کې برخه اخستې او په لږ توجه کېدای شي دغه پروسه نوره هم غښتلې کړي اوافغاني مېرمنې ته اوه کلن سقوط وروسته دتمدن ، تعلیم او بشري تکامل په برخه کې ورسوي. دبیلګې په توګه دراتلونکي اساسي قانون لپاره یوې مرسته کونکې موسسې پوره ۱۰۰ کسه ښځینه زده کونکې روزلې چې دراتلونکې دولت داساسي قانون په جوړښت، تردیداوتائیدکې په کامله فکري وړتیا سره رائې ورکړي.

له لویه سره دغه مالي او تخنیکي همکارۍ بنیادي سرمایه ګذاري ګڼل کېدای شي چې دبشري همدردۍ او انساني تکامل په نسبت ترسره کېږي خو زیاتره وخت فرصتونه دافغانستان روزې نشي. دمېرمنو چارو وزارت کې دغیر دولتي اینجوګانو اوموسسواداري مشرۍ نوریه بنوال په څېرزیاتره مېرمنې هم پدې نظر دي چې مرسته رسونکې اداري دبیارغونې په نوم بهرنۍ مرستې یوازې دځان په ګټه کاروي ، نوموړې وائي: « که دولت اینجوګانو ته کاري استقامت او مشخصه پالیسي ورنکړي اټکل ده چې دکال ترپایه په ملیاردونو ډالره زیان وګالي.»

خو دمېرمنو چارو وزارت دبهرنیواړیکو مرستیاله منعمه منصوردهمدې ادعا په ځواب کې وائي چې دلوړومقاماتو سره پداسې یو پروتوکول سلاشوي چې هغه داخلي اینجوګانو اوموسسات چې دمېرمنودچارو په برخه کې فعالیت کوي په پلان وزارت سربېره بایددمېرمنو وزارت هم را جستر شي هغه څرګنده کړه چې « له دغه تصمیم راپېدیخوا تقریباً ۴۰ انجوګانو له مونږ سره راجستر شوي او مونږ به دپلان وزارت سره په لږ توپیر دوړتیاولرلای شو چې انجوګانو. ته کاري استقامت او ټاکلې پالیسي ورکړو اوهغوی دخپلو کارونو راپورونه اومالي حسابات بایددښځو وزارت ته وسپاري». نوموړې ډاډه ښکاري چې ترنن پورې دغه طرح شوی پلان ئې په کامل ډول مرعات شوی دی . همدا رازدښځووزارت زیاتره مامورینې پدې نظر دي چې نړیوال مرسته کوونکي باید داسې تولیدي پروژې دښځو په واك کې ورکړي چې عاید یې بیرنې او ډېر وي یعنې زودرسه تولیدي پروژې خوهغه چې په لږ فزیکي قوه ترسره کېدای شي ځکه میرمنې دډېر استقامت اوثقیلو کارونو توان نلري.

د کابل کې دکورونو جوړولو بله پروژه

یوې خصوصي کمپنۍ هوډ کړی چې دکابل ښار په مختلفو سیمو کې دکورونو جوړولو نوې پروژې عملي کړي .

دیوه قرارداد له مخې چې دکابل ښاروالۍ او دافغان انترګروپ خصوصي شرکت ترمنځ څوورځې وړاندې امضاء شو په کابل کې دبې کوره وګړولپاره داساسي کورونو دجوړولودیو نوې پروګرام یادونه پکې شوې ده. افغان انترګروپ دکابل دشاروالۍ سره په موافقې رسېدلې څو دهمدغه کال په جریان کې یوزیات تعدادکورونه داړو خلکو لپاره ورغوي. دا لاڅرګنده نده چې ددغه پروژې دکارولو لپاره کومې سیمې مشخصې شوي دي خودکابل شاروالۍ سرپرست دیپلوم انجنیر امرالدین سالك وائي چې دا ډول ډېرو خصوصي او بهرنیودولتي کمپنیو مراجعه کړې چې دراستنېدونکو او بې سرپنا کډوالو لپاره داوسېدو جونګړې ودانې کړي او له ګڼ تعداد سره ئې دشاروالۍ مقاماتو له خوا توافق پاڼې امضاء شوي دي.

د بیارغونې د ۷۰ سلنه پروژې د ۲۰۰۳ کال د مارچ تر مخه بشپړېږي

دتېرکال په سرګې چې دلنډمهالې اداري په عنوان مرکزي دولت په کابل کې حاکمیت حاصل کړ نړیوالو دونرونو، موسساتو، داخلي انجوګانو اوسازمانونو په افغانستان کې دبیارغونې چارو ته دمرستو ژمنې وکړې خو هغه چې په افغانستان کې داساسي او رومبني ضرورت په توګه احساس کېدای شي دافغاني مېرمنو دهوساه ژوندچانسونه دي. دطالبانو په دوران کې مېرمنې په محرومیتونو اومحدودیتونو کې راګیر وې مګر دلنډمهالې اداري حاکمیت دغه اجباري بریدونه تریوې اندازې ونړول . په اوایلو کې دولت په محدودو امکاناتو ددې جوګه شو چې دښځو چارو په نوم یو وزارت رامنځ ته کړي خوزمونږدهېواد کمزوري اقتصاد به جبیره نکړای شي چې یوازې په نوم حق یې مېرمنې له مصنوعې پدیدو وژغوري. نو اساسي موضوع همدا ده چې له داخلي امکاناتو سربېره دغه وزارت په نړیوالو جلب شویومرستو کې څومره ونډه ترلاسه کړې ده

دښځوچاروزارت په نسبي توګه پدې بریالی شو چې ترډیرې اندازې دبلا عوض بهرنیو مرستوسره برخه پخپله خوا وروړوي. په رومبي سرکې دملګرو ملتونو اداري (یونما) دیلو او IOM مالي او تخنیکي همکارۍ دستاینې دي. دغه اداري په مرکز اوځینې ولایاتوکې وتوانېدل چې په ښونه اوروزنه او دمسلکي کادرونو په روزلو کې دمېرمنوونډه غښتلې کړه همدا مهال د(۵۰) په شاه و خوا کې تعلیمي او حرفوي کوروسونه په کابل کې یوازې دښځینه زده کوونکو دتعلیمي کچې دلوړوالي په منظور دایر شوي چې به دوام مومي. دمرستندویه مرکزونو له خوا دانګریزي ژبې، کمپیوتر، اداري یا منجمنټ، تجارتي وړتیا ، لاسي صنعت، دماشومانو تربیه، کورنی نظام اودځینو نورو ورځنیو چارو دښه ترسره کولو اوسمبالولو په غرض د ترېنګونو، سیمنارونو، کورسونو او ورکشاپونو دایریدل لکه چې تر سترګو کېږي دمثبت رول په توګه ارزولای شو.

ددې ترڅنګ د ۷۰ په شمېر داخلي انجوګانو هم په افغانستان کې دمېرمنودموجودو ستونزو په مخنیوي کې برخه اخستې او په لږ توجه کېدای شي دغه پروسه نوره هم غښتلې کړي اوافغاني مېرمنې ته اوه کلن سقوط وروسته دتمدن ، تعلیم او بشري تکامل په برخه کې ورسوي. دبیلګې په توګه دراتلونکي اساسي قانون لپاره یوې مرسته کونکې موسسې پوره ۱۰۰ کسه ښځینه زده کونکې روزلې چې دراتلونکې دولت داساسي قانون په جوړښت، تردیداوتائیدکې په کامله فکري وړتیا سره رائې ورکړي.

له لویه سره دغه مالي او تخنیکي همکارۍ بنیادي سرمایه ګذاري ګڼل کېدای شي چې دبشري همدردۍ او انساني تکامل په نسبت ترسره کېږي خو زیاتره وخت فرصتونه دافغانستان روزې نشي. دمېرمنو چارو وزارت کې دغیر دولتي اینجوګانو اوموسسواداري مشرۍ نوریه بنوال په څېرزیاتره مېرمنې هم پدې نظر دي چې مرسته رسونکې اداري دبیارغونې په نوم بهرنۍ مرستې یوازې دځان په ګټه کاروي ، نوموړې وائي: « که دولت اینجوګانو ته کاري استقامت او مشخصه پالیسي ورنکړي اټکل ده چې دکال ترپایه په ملیاردونو ډالره زیان وګالي.»

خو دمېرمنو چارو وزارت دبهرنیواړیکو مرستیاله منعمه منصوردهمدې ادعا په ځواب کې وائي چې دلوړومقاماتو سره پداسې یو پروتوکول سلاشوي چې هغه داخلي اینجوګانو اوموسسات چې دمېرمنودچارو په برخه کې فعالیت کوي په پلان وزارت سربېره بایددمېرمنو وزارت هم را جستر شي هغه څرګنده کړه چې « له دغه تصمیم راپېدیخوا تقریباً ۴۰ انجوګانو له مونږ سره راجستر شوي او مونږ به دپلان وزارت سره په لږ توپیر دوړتیاولرلای شو چې انجوګانو. ته کاري استقامت او ټاکلې پالیسي ورکړو اوهغوی دخپلو کارونو راپورونه اومالي حسابات بایددښځو وزارت ته وسپاري». نوموړې ډاډه ښکاري چې ترنن پورې دغه طرح شوی پلان ئې په کامل ډول مرعات شوی دی . همدا رازدښځووزارت زیاتره مامورینې پدې نظر دي چې نړیوال مرسته کوونکي باید داسې تولیدي پروژې دښځو په واك کې ورکړي چې عاید یې بیرنې او ډېر وي یعنې زودرسه تولیدي پروژې خوهغه چې په لږ فزیکي قوه ترسره کېدای شي ځکه میرمنې دډېر استقامت اوثقیلو کارونو توان نلري.

گزارش فعالیت های معارف افغانستان دریک سال گذشته

وزیر معارف دولت انتقالی اسلامی افغانستان در آغاز سال تعلیمی ۱۳۸۲ هجري شمسي بیانیه‌ء را ایراد نمود که درآن فعالیت های وزارت معارف دریک سال گذشته تذکر داده شده بود. درمتن زیرین نقاط ا عم آن گزارش را خوانده میتوانید.

۱- باز شدن دروازه های زیاد از شش هزار مکتب به روی دختران و پسران .

۲- بازگشت وروی آوري (۳۳۴۴۶۶۶) شاگرد به مکاتب ویران ونیمه ویران ،

۳-توحید نصاب تعلیمی متعدد .

۴-آماده سازي وتهیه اولین چوکات نصاب تعلیمی معارف .

۵- تجهیز ریاست های معارف ولایات شامل یک عراده موتر، یک پایه مخابره یک گوشي تلفون سیار ، یک دستگاه کمپیوتر برای هر یک از ۳۲ ولایت کشور .

۶- احیای دوباره ریاست امور صحی درچوکات وزارت معارف که با درنظرداشت توافقات درسراسر کشور توسعه خواهدیافت.

۷- تشکیل ریاست کوپراتیف معلمان در چوکات معارف که ازین طریق معلمان میتوانند مواد ضروری خانواده های شان را حدود ۲۰ الی ۳۰ فیصد ارزان تر از نرخ پرچون بازار تهیه نمایند.

۸- احیای دوباره ثارندوی معارف بشمول دختران وپسران

۹-احیای تربیت بدنی برای گروپ های اناث .

۱۰ - اعمار ۱۴۵ باب مکتب جدید در مرکز وولایات .

۱۱ - ترمیم ۳۹۳ باب مکتب .

۱۲ - عقد قرارداد تهیه یک و نیم میلیون سیت میزوچوکی و توزیع ۱۲۵۹۵۰ سیت آن به مکاتب .

۱۳-عقد پروتو کول برای احداث شهرک های معلمین با ظرفیت ۳ الی ۵ هزار آپارتمان درشهر کابل و ۲۵۰ آپارتمان در هر ولایت .

۱۴ - ترمیم وحفر چاه آب و تشناب در ۱۹۰ باب مکتب.

۱۵ - ایجاد وبازسازی کتابخانه مرکزی وزارت معارف که ازاین طریق ۳۵ هزار جلد کتاب به کتابخانه های مکاتب درمرکز وولایات توزیع شده است.

۱۶- احیای مجدد ۱۱۵ باب مدرسه ودارالحفاظ درسراسر کشور .

۱۷ - احیای مجدد موسسات تعلیمی مسلکی شبانه ولیلیه آنها ، موسسه تعلیمات نابینایان، تعلیمات عالي، صنایع محلي و مراکز حرفوي.

۱۸ - تاسیس کورسهای سوادحیاتی .

۱۹- از دیاد پنجاه درصد معاش برای همه معلمان.

۲۰-برگزاری کورس های داخل خدمت برای همه معلمان تعلیمات صنف دوازدهم .

۲۱ قراردادن ۲۲۰ اسکالرشیپ کوتاه مدت و دراز مدت تحصیلی ومشاهداتی در اختیار منسوبین معارف.

همچنان در گزارش مذکور آمده بود که وزارت معارف برای سال نو باتوجه به تجارب بدست آمده از سال قبل وبرای تکمیل برنامه انکشافی خود پروگرام جدید را درنظر گرفته که درآن هم ارقام وفاکت های تعهد شده بطور ذیل واضح شده بود.

۱- تحول پالیسی واهداف تعلیم وتربیه به گونه ای که متناسب با نیازمندی های جامعه امروز ماو جهان باشد.

۲- اصلاح سیستم تعلیم وتربیه.

۳- تحول در چوکات نصاب تعلیمی مانند اضافه نمودن آموزش کمپیوتر،زبان های خارجی، تعلیمات صلح، وحدت ملی، محیط زیست و مبارزه با تروریزم ومواد مخدر.

۴- اصلاح ساختار تشکیلاتی وزارت معارف به ویژه اضافه نمودن ریاست امور تربیت تکمیلی .

۵- منظوری معاش منطقوی ماهوار برای کسانیکه به ولایات ومناطق دوردست توظیف می گردند.

۶- اعمار ۶۴۰ مکتب و ترمیم ۲۰۸۰ مکتب درولایات مختلف متناسب بانیاز ها.

۷- تاسیس مراکز تربیت معلم در ولایات .

۸- تهیه ۱۳،۹ میلیون کتاب درسي .

۹- تهیه لابراتوار برای ۱۰۰۳ لیسه .

۱۰- تاسیس وتجهیز کتابخانه برای ۱۰۰۳ لیسه با ظرفیت ۱۰۰۰ نسخه کتاب برای هر کتابخانه.

۱۱-احیای ورکشاپ های تخنیکی در ۴۱ مکتب مسلکی.

۱۲ - تهیه وسایل ترانسپورتی برای وزارت وولایات

۱۳-احیای مکاتب تجربوي.

باز هم چند درس عبرت آموز از تاریخ

پیوسته به گذشته

م.ا. نگارگر

آنان ظاهراً از مبارزه بر ضد بقایای القاعده صحبت میکنند و حال آنکه جناب خلیل زاد تا حال چندین بارگفته است که القاعده در افغانستان به طور کلی نابود گردیده و به اصطلاح خود شان پاکت های کوچک مقاومت شان اینجا و آنجا باقی مانده است. آیا حضور القاعده میتواند دلیل موجه برای حضور امریکا در افغانستان باشد؟ ولی آیا " در مصلایک همین ما حافظیم" اگر هر مملکتی حضور دشمن خود را در یک کشور دیگر بهانه اشغال آن کشور قرار بدهد در این صورت تکلیف منشور ملل متحد چه میشود؟ امریکا که خود را "رهبر بلامنازع جهان" میشمارد این حق را برای خود قایل است اما، اگر امریکا رهبر جهان هم باشد بدون شک یک رهبر دیکتاتور است زیرا که مردم جهان در انتخابات آزاد و دموکراتیک امریکا را برای رهبری خود نگزیده اند و امریکا رهبر خود گماشته و سرزور است که در این مورد خاص چندان فرقی با صدام حسین ندارد بنا بر این مردم جهان حق دارند که با رهبران خود گماشته و سرزور مبارزه نمایند و این حق به اساس همان معیار های ناشی از انقلاب امریکا ثابت است. فرعون امریکا که با تکیه بر تکنالوژی مدرن نظامی سرود "اناربکم الاعلی" را سر داده است باید به یاد داشته باشد که حمله تروریستی لبنان که سبب کشته شدن دو صدو چهل و هشت امریکایی و پنجاه وهشت فرانسوی گردید و همچنان حادثه یازدهم سپتمبر ۲۰۰۱ به وضاحت نشان داد که امریکا هم در درون وهم در بیرون خاک خود آسیب پذیر است و بنا بر این هر قدر زور گویی و خود سری امریکا بیشتر گردد و هر قدر ملل متحد بیشتر به لعبتک امریکا بدل شود مبارزات مردم جهان بر ضدش بیشتر اوج میگیرد و امریکا را باسرنوشت همان امپراتوریهای قبلی د چار میکند. آیا بهتر نیست که امریکا غرور را کنار گذاشته از سرنوشت امپراتوریهای استعماری قبلی چیزی بیاموزد؟ اینکه مردم امریکا بر ضد پالیسی های جنگ طلبانه دولت خویش راه مبارزه و اعتصاب را میگیرند مایه شادمانی و امیدواری است و نشان میدهد که مردم امریکا نمیخواهند مورد خشم و تنفر جهانیان قرار بگیرند و زنده گی های قیمتدار شان هدف حملات تروریستی باشد. مردم امریکا باید بدانند که تروریسم معلول ظلم و بیعدالتی های مسلط برجهان است و تا وقتیکه چاره علت رانکنند مبارزه با معلول به هیچ جا نمیرسد. آری مردم امریکا با نظام مبتنی بر مردم سالاری میتوانند که عناصر و دولتهای جنگ طلب خود را مهار کنند تاریخ افغانستان نشان میدهد که افغان وقتی سایه سربازان خارجی را در خاک خود دید درباره آزادی خویش دچار شک میشود و آنگاه حاضر است همه چیز را در قمار حصول آزادی داو کند. سرنوشت آینده دموکراسی در افغانستان ایجاب میکند که جناب کرزی در لویه جرگه آینده افغانستان مسأله حضور سربازان خارجی را در کشور با نماینده گان مردم مطرح نمایند واز آنان رهنمودی روشن بگیرند که بعد از به طور مثال یک دوره دوساله اردوی ملی افغانستان روی پای خود می ایستد و وظیفه خطیر تمامیت ارضی و امنیت ملی را به عهده میگیرد و بار گران مبارزه با القاعده را در افغانستان از دوش امریکا و متحدینش باز میگیرد و افغانستان که دیگر نیازی به سربازان خارجی ندارد ناگزیر عذر شان را خواهد خواست این کار به دو دلیل ضرور است: نخست امریکا در برابر تصمیم نماینده گان ملت افغانستان قرار میگیرد و نمیتواند اشغال افغانستان را به بهانه مبارزه با القاعده که در حال حاضر حکم سوزنی گم شده درکرت رشقه را دارد دوام بدهد و همسایگان ما هم مطمین میشوند که امریکا نمیتواند افغانستان را به یک پایگاه ضد آنان تبدیل نماید دو دیگر اینکه جنگسالاران دوروبر جناب کرزی که همین حالا نیز او را به صورت ببرک کارمل امریکا تصویر میکنند نخواهند توانست بابازی کردن قطعه سه طوس جهاد جامعه ما را از مسیر رشد آن به سوی دموکراسی باز دارند. از دیدگاه من اینست خطر بسیار جدی که دموکراسی را در افغانستان تهدید میکند.

تشکیل هرچه زود تر اردوی ملی و یک لویه جرگه فارغ از نفوذ جنگسالاران همان آب حیاتی است که افغانستان بدان ضرورت دارد ولی ارودی جنگسالاران اردوی ملی نمیتواند باشد. من ناگزیرم یک بار دیگر از خوانند گان صاحب نظر خویش تقاضا نمایم که این موضوع را جدی بگیرند و صدای نیرومند خویش را با آذان این ملای غریب یک جا نمایند و دست دموکراسی در حال غرق شدن را بگیرند.

والله اعلم بالصواب.

پایان

شکوهی
من چی گویم

توبر اسپت سواری من چی گویم
زما ومن کناری من چی گویم
ز رسم و راه دنیا مانده ای دور
اگر غفلت شعاری من چی گویم
همه دو، دو و لیکن از تو بهتر
تو در چشمت چهاری من چی گویم
برای اخذ و جر امتیازات
دو دسته تو تیاری من چی گویم
تو کردی زیر پابس سبزه و گل
بغل ها را تو خاری من چی گویم
به پای دار بردی عالمی را
تو خود لایق به داری من چی گویم
به دزدی متهم کردی تو ما را
تو دزد آشکاری من چی گویم
شدی در چور مشهور دوعالم
کنون خدمت شعاری من چی گویم
تبه کردی تبار و خان و مانرا
کنون اهل و تباری من چی گویم
به لین و دین ظاهر یار غاری
به آستینم چو ماری من چی گویم

نوی والي اوووو

د سرك د بيا جوړولو دغه كار په سالار باغ كى د ميشته ائتلافى ځواكونو ، د كنړ د فوائد عامى د رياست او خلكو په مرسته سرته رسيږى همدا شان د نوى والى په تګ سره دځنګلونو د پرى كولو د بنديدو غوځ امر وشو . د بندولون او ويالو دجوړولو ژمنى يې له خلكو سره وكړى كه چيرى په هيواد كى د نورو ولايتونو په هكله د چارواكو بدلون را بدلون پيل شى نه يوازى دا چى له مركزى ادارى څخه به د خلكو غوښتنه سرته ورسيږى بلكى چارواكى به د هغه ولايت د جوړونى په بهير كى ګړندى ګامونه واخلى او د ولاياتو په سطحه به د جوړولو په برخه كى يوه سالمه سيالى هم را منځ ته شى د هيواد په اوسنيو شرايطو كى چى د هر ولايت چارواكى د همغه يا څيرمه اوسيدونكى دى زياتره د خپلوى دوستى او يا پېژند ګلوى له امله كله كله د خپلو قانونى اجراآتو په برخه كى له ستونز سره مخ كيږى له همدى امله ده چى په اكثره خپرونو كى زموږ د اولس له خوا د اصلاحاتو اوجوړولو په خاطر د بدلون را بدلون په برخه كى پيشنهادونه كيږي او دادى دكنړ د نوى ولايتى مشرى په ټاكنه سره داسى ليدل كيږى چى موږ په هيواد كى د مركزى ادارى د بشپړى واكمنى او امرو د تطبيق او ځارنى او د مثبتو نتيجو د رامنځ ته كولو په برخه كى د نوو ټاكنو ارزښت او اهميت جوت اوڅرګنديږى نوى ټاكنى او د دندو اشغال په هر ولايت كى د نوو او ضرورى كارونو د سرته رسولو لپاره لاره پرانيزى او په هيواد كى د ملى يووالى او سوله ييز ژوندانه بهير پياوړى كوى.

In This Issue:

1- *Cotton Production, A Big National Income Source*
2- *Women Have A Small Part In International Aid*
3- *Report Of Educational affairs During The Past One Year*
4- *Contract Of Afghan Government With International Cement Company*
5- *Another Housing Project In Kabul*
6- *Schools Reopen In Iraq*
7- *UK And The USA Welcome Indian Decision*
8- *Colin Powel To Keep On His Tour Of Lebanon And Syria*
9- *Mass Grave Found Near Baghdad*
10- *Toward The Reconstruction*

سهراب دیدار
جمالو کاکا او نوی مجله

يره داجمالو كاكا عجيبه سړى دى بس شپه او ورځ په همدې فكر كې وي چې څنګه يو موټې پيسې ترلاسه كړي باور وكئ چې په كور كې ډوډۍ په كراره نشي خوړلى په سوچونو كې تللى وى كله وايى فلانى رياست ته ځان بدلوم ښه پيسې په كې دي او كله واې فلانى رياست ته كله وايى زما دكوچنيوالي ملګري كې وويل :

ليونيه! تانه دى اوريدلى چې حلال خورى حلال به شي كه حرام خورې آرام به شي. دا رشوتونه چې خورې دا اختلاس چې كوي د وى خو څه رانده نه دې دوى هم دا وران وطن ګوري خو ددنيا سيال داري هم څنګه؟ كېږي به اوكه نه؟ سيال داري خو هم ضرور ده.

پرون يې يو فكر سنجولى و كار راونيسو.

ومې ويل : زه او ته خو نه شاعران يو نه ليكوال دا خو څه اسانه خبره نه ده وى خندل اسانه ده اسانه يوه مجله راوباسو مجله.

هك پك شوم له خولې مې ووتل مجله څنګه ؟

په تش لاس!؟

- هو مجله چاپوو.

مطالب يې له كومه كوى؟

په چايې پلورې پيسې او چې غرمه له شعبې نه كورته راغلم گورم چې ترمادي وختې رارسيدلى دى له روغبړ وروسته يې وويل:

راځه بچيه مانه پرېږدې چې يو ښه ځاى ته ځان بدل كم راځه چې نن مى يوبل فكر سنجولى دى.

ومى ويل: بيا څه دې جمالو كاكا!

راځه چې دمطبوعاتو نه لګښت يې له كومه كوي؟

دا پوښتنې مې په يووار وكړي.

اى ليونيه! اسانه خبره ده دومره ليكوال دى او دومره شاعران چې وطن په ډك دى حق الزحمه نه اخلى چې ورته ووايى چې مطلب وليكه وايى په سترګو.

هغه پخوانى وختونه وو چې هر شاعر اوليكوال ته ددوو كرښو حق الزحمه وركول كيده او له حق الزحمى پرته به يې نه ليكل.

هغه وختونه لاړل غويي وخوړل دادى مجله پوره شوه پاتې شو كمپوز او چاپ.....

ومې ويل اصلى خبره همدا ده كمپوز او چاپ به څنګه شي؟

اى ليونيه فقط ته راهووكه نور كارونه ماله پرېږده.

يو نفر ته به څه پيسې مجلې په عكسونو پلورل كېږي څوك يې په محتوا پسې نه ګرزى.

دا پيسې، دپيسو خبره كوه.

وه ليونيه! پيسې اسانه دى كومې موسسې سره به ارتباط ونيسو دسوداګرو اعلانونه ، دهغو عكسونه، قسم په خداى چې خپل عكس په مجله كې ووينى چې خپلې پيسې ونه شميرې او ذريې كړي.

جمكو په ښه بست كې مقرر شوي. موافقه به ترې راوړم كله وايى هغه فلانى زما دخسر خيلو له جملې څخه دى كه هرڅه خورد و برد وكړم څه نه وايى.

تيره ورځ مې ورته وويل: جمالو كاكا! ډير دپيسو په فكر كې مه اوسه اوس ددې وران وطن دجوړولو غم په كار دى وطن وران دى وطن. په خندا وركوو مطالب به راغونډوي او ګوره دمجلې بيه اواشتراك به لوړنيسو چې څومره لوړ وى خلك فكر كوي چې پدې مجله كې ښه مطالب دى او چې څومره يې بيه كمه وى خلك پرې نه راځي او ګوره داسې جذابه جذابه عسكونه خپله پوهېږې نو عكسونه به هم ولري اوس خو زياتې په ولايتونو كې به نماينده ګى ولرو په خارج كې به نماينده ګى ولرو او دمجلې د پوښتې په يوځاى كې به يې وليكو

ومې ويل تا خودومره غټه كړه دومره نفر به دكومه كړو؟

ليونيه! دروغ دچادمور او پلار دى له ځانه يې ليكو بس داكار به كوو ډيره ګټه په كې ده.

ERADA Daily

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷

Weekly Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787

قیمت یك شماره ۲ افغانی

اراده
د افغان نشراتي مرکز خپرونه
مدیر مسوول : ظهور "افغان"
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: محمد عارف "لودین" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
تیلفون: ۰۰۹۳۷۰۲۷۵۱۹۱